الدرس السادس | شپږم درس

صيام التطوع | نفلي روژے

رسول الله ﷺ نفلي روژو ته هم ډير ترغيب ورکړيدی چی په لاندينی ډول دی۱=شپږ روژی د شوال د رمضان نه پس حديث کښې دی :«مَنْ صَامَ رَمَضَانَ ثُمَّ أَتْبَعَهُ سِتًّا مِنْ شَوَّالٍ كَانَ كَصِيَامِ الدَّهْرِ» رواه مسلم.ترجمه : چاچې د رمضان روژی ونيولی او وريسی د شوال شپږ روژی ونيولی ، دا پشان د ټول کال د روژو دی .۲=هفته کښې دوه ورځی دګل ورځ (پير) اود زيارت ورځ (جمعرات) باندی روژه نيول سنت دی.۳=هره مياشت کښې دری ورځی روژی نيول افضل دی ، که د ايام البيض ورځی وی ، ديارلسمه (۱۳) څوارلسمه (۱٤) پنځلسمه (۱٥) او که نوری ورځی وی .٤= دعاشوری دورځی روژه د محرم دمياشتی د لسمی ورځی روژه ده ، او مستحبه داده چه يوه ورځ تري مخکښې اويا يوه ورځ روستو روژه ونيولې شی ، قال رسول الله ﷺ :وَصِيَامُ يَوْمِ عَاشُورَاءَ، إِنِّي أَحْتَسِبُ عَلَى اللهِ أَنْ يُكَفِّرَ السَّنَةَ الَّتِي قَبْلَهُ». رواه مسلم. ترجمه : رسول الله ﷺ فرمائيلی دی : د عاشوري د ورځي روژه نيول زه اميد کوم د الله تعالي نه چی د يوکال مخکني ګناهونه وريژوی .٥=دعرفي د ورځي روژه چی د ذی الحجي د نهمه ورځ ده ، حديث کښې راغلی دی:

صِيَامُ يَوْمِ عَرَفَةَ أَحْتَسِبُ عَلَى اللَّهِ أَنْ يُكَفِّرَ السَّنَةَ الَّتِي قَبْلَهُ وَالسَّنَةَ الَّتِي بَعْدَهُ، رواه مسلم.

ترجمه : د عرفی د ورځی ورژه نيول (نبی کريم صلی الله عليه وسلم) فرمائي : زه دالله نه اميد کوم چه يو کال مخکښنی او يو کال وروستنی ګناهونه ووريژه وی .

### هغه ورځی چی هغي باندي روژي نيول حرام دی

۱=د اختر ورځی ورکوتی اختر او لوئي اختر.

۲=د ذی الحجی يولسمه ، دولسمه او ديارلسمه ورځ باندي چه ايام التشريق ورته وائي ، روژه نيول حرام دی .۳=د حيض او د نفاس په ورځو کښې روژه نيول حرام دی .٤=د ښځي نفلي روژه دخاوند د اجازت نه بغير چی خاوند ئي حاضر وی . حديث کښې راغلی :«لا تَصُومُ الْمَرْأَةُ وَبَعْلُهَا شَاهِدٌ إِلا بِإِذْنِهِ فِي غَيْرِ رَمَضَانَ». متفق عليه. ترجمه : روژه به نه نيسی يوه ښځه چی خاوند ئی حاضر وی مګر په اجازه دهغه باندی سيوا د رمضان نه